**NOTE:**
**'A Short Guide to Safeguarding' – translated into Pashto (October 2024). This guide support sponsorship groups to understand the basics of safeguarding, CUK's responsibilities in keeping them safe and what action they can take to report a safeguarding concern.**

# د خوندیتوب لپاره لنډ لارښود

**د بریتانیا د ښاروند (سیتیزن یوکې) سازمان د خوندیتوب اړوند تګلاره څه ډول ده؟**

سیتیزن یوکې تر چتر لاندې موږ غواړو چې ټول خوندي واوسي، ترټول اړین یې بیا دا چې موږ کوښښ کوو چې د سیتیزن یوکې لخوا تاسي ته زیان درپیښ نه کړي او یا هم دا چې د سیتیزن یوکي له تاسي سره کار کوي له همدې کار کولو له امله په یوه نه یوه بڼه زیان او ځور دروسیږي.

دا زموږ مسوولیت دی چې ځان باوري کړو چې تاسي ته زیان ونه رسیږي او هم د خوندیتوب احساس ولرئ، دا په دې معنی ده چې د سیتیزن یوکي استازي لکه (کارکوونکي، رضاکاران او همکاران) همدې اړوند تګلارې او اصول لري ترڅو یې پلي کړي.

## د سیتي زن یوکي استازي هیڅکله باید نه:

- تاسي په قزیکي او یا کومه بله بڼه وځوروي .
- په تاسي چغې ووهي، په ځورونکو نوم ونو یاد کړي او یا داسي څه درته ووایي چې ستاسي له خپل خانه د ناخوښۍ احساس سبب وګرځي.
- تاسي هغه څه ته مجبور کړي چې تاسي یې کول نه غواړئ، له تاسي پیسې او یا بل څه وغواړي، د سیتي زن یوکي ټول چوپړونه وړیا دي.
- په جنسي توګه تاسي ته خبرې او یا لاس دروړي، هغوی باید هیڅکله هم رومانتیکه اړیکې له تاسي سره جوړې نه کړي.
- له تاسي سره په ټولنیزو رسنیو کې لکه (انسټګرام، فیسبوک) کړې تړاو ولري او یا تاسي ته د هغه څه په اړه چې د کاري اړیکو اړوند نه دي، پیغام درولیږي .
- ستاسي کور ته راشي او یا تاسي خپل کور ته ورو غواړي.

## د سیتي زن یوکي استازي باید چې:

- تاسي ته درناوی او خوندیتوب درکړي.
- که چیرې تاسي کوم وخت ځوریدلي وی او یا هم غواړی هغوی ته د خپل تشویش اړوند ووایی، هغوی باید تاسي ته غوږ ونیسي او خبرې وکړي البته که چیرې یې تاسي وغواړئ .
- که امکان ولري تاسي له ستاسي سره اړوند پریکړو کې ورګډ او شریک کړي.
- ستاسي اړوند مالومات خوندي وساتي.

**په ډیرو شرایطو کې به تاسي د سیتي زن یوکي له استازو سره یوازې نه وی/نه ګورئ، که وي هم دا به نو عامه ځایونه**

وي .

# خوندیتوب څه دی؟

- هغه څه چي د هغه کول تاسي له زیان او ناوړه ګټي اخیستني څخه ژغوري.
- د یو چا پر وړاندي د زیان او ناوړه ګټني اخیستني مخه نیول او یا دا چي له زیان او اذیت لیدونکي حالت څخه د بیا په پښو ودریدو لپاره مرسته کول.
- په ټوله کي له خلکو سره د هغوی په خوندیتوب کي او یا دا چي هغوی خوښ او روغ وي ملاتړ کول دي .

## ځورونه او ناوړه ګټه اخیستنه څه ده؟

- کله چي یو څوک ژوبل شي او هغه پرې تاثیرات ولري ،ځور ګڼل کیږي چي دا فزیکي زیان یا ځور دی. بلکه د دي ترڅنګ که د یو چا احساس او روان وځورول شي دا هم پکي شامل دی.
- لکه څنګه چي ډیری خلک مهربانه او خوند دي خو ناوړه ګټه اخیستنه هغه وخت رامنځ ته کیږي چي (د معمول پر بنسټ یو بالغ) په قصدي او یا هم بي پروایی سره بل کس وځوروي او یا زیان وروړوي.

## بیلګي



- تاسي ووهي او خونړی وي، دا د فزیکي ځور بیلګه ده .



- یو بالغ کس ستاسي د بدن خصوصي اندامونو ته لاس درووړي، دا د جنسي ځور بېلګه ده .



- که چیري ستاسي اړوند یو څوک زیانمن وغربیري/وخاندي او هغه تاسي ته ستاسي د وجود اړوند ناسم احساس درکړي، دا احساسي ځورونه او ناوړه ګټنه اخیستنه ده .



- که چیرې کوم څوک ستاسي ساتنه کوي او هغه ته چي تاسي ورته اړتیا ولرى، تاسي ته برابر نکړي، لکه خوراک ،مینه، اړوندتوب، کوم چي هغوى یې باید تاسي ته درکړي، دا د غفلت بېلګه ده.



- که چي تاسي یو څوک بل هیواد ته ولیږي ترڅو هغوى ته د پیسو په بدل کې کار وکړی، دا د ناوړه ګټې اخیستني او قاچاق بېلګه ده .

# که چیرې د سیټیزنز یوکې کوم استازی تیروتنه وکړي، زه باید څه وکړم؟



که چیرې هغوی کوم اصول مات کړي او یا داسي څه وکړي چي تاسي وځوروي او د ناخوندیتوب احساس وکړی، دا ډیره اړینه ده چي تاسي د سیټیزن یوکې په چوکاټ کې کوم بل چاته په دې اړه ووایی.موږ ته د ویلو لپاره بېلابېلې لارې شته، تاسي کولای شی له هغو هغه یوه وټاکی چي تاسي ورسره
ډیر راحت وی.

**جاوید نشاط**



په ستیزن یوکې کې دا د جاوید دنده ده چي باور ترلاسه کړي، هر یو خوندي دی. تاسي کولای شی هغوی د بریښنالیک له لارې (safeguarding@citizensuk.org)، ټلیفوني اړیکي، پیغام او یا واټسپ له لارې پ ه

۰۰۴۴۷۹۳۰۶۱۵۴۶۱

له لارې ورسره په اړیکه کې شی.

# له بل چاسره خبرې کولای شم؟

تاسي شاید جاوید ونه پیژنی او یا له هغوی سره د خبرو کولو اړوند د راحتی احساس ونلری، پرځای یی تاسي کولای شی د ستیزن یوکي په چوکاټ کي له بل هرچاسره چي تاسي ورسره د راحتی احساس لری، وغږیږی. د بېلګي په بڼه دا شاید ستاسی د دوسیي مخکي بیوونکی (کیس ورکر) او یا د هغه مدیر وي .



**که چیرې تاسي نه پوهیږی چاته یی ووایی، تاسي کولای شی د همدې بڼي په کیکاږلو سره فورمه ډکه کړی. دغه فورمه په پښتو، روسی، اوکراینی او دری ژبو موجوده ده.**

## د سیټیزن یوکي کارکوونکو ته د بل کوم څه اړوند ویلی شو ؟

موږ همدلته ستاسي د چوپړ لپاره یو. له همدې امله دا پدې معنا نده چي یوازې د ستیزن یوکي کوم کارونکی که کومه ناسمه کړنه وکړي نو موږ به وایی، که تاسي بښه احساس نلری او یو څه مو ځوروي نو هغه هم راته ویلی شی. موږ کیدای شي همیشه د حلاره ونلرو خو موږ به همیشه کوښښ وکوو چي له تاسي سره مرسته وکړو، یا مو له اړوندو خلکو سره چي حلاره ولري، ونښلوو.

# کله چي زه د سیټیزن یوکي کارکوونکو ته یو څه ووایم وروسته به څه وشي؟

کله چي تاسي د سیټیزن یوکي د کاروکوونکو اړوند د کوم څه په اړه چي هغوی ترسره کړي، موږ ته ووایی دا پدې معنی ده چي موږ به اړتیا ولرو له تاسي سره د هغه څه په اړه چي پیښ شوي، خبرې وکړو. موږ به کوښښ وکړو ځینې بدلونونه رامنځته کړو ترڅو باوري شو نور خلک له ژوبلیدو/ځور وژغورل شي.

که چیرې تاسي موږ ته د کوم بل چا اړوند چي تاسي ژوبلوي، ووایی نو موږ به شاید له نورو خلکو سره خبرې وکړو. لومړی به جاوید په اړه خبر شي لیکن هغوی به له سیټیزن یوکي د باندې لکه کیدای شي له سوشل ورکر (ټولنیز کارکوونکی) او یا کوم بل چاسره وغږیږي ترڅو تاسي خوندي وساتي.



## آیا هغه څه چي زه یی تاسي ته وایم پټ دي ؟

**نه داسي نده**. که چیرې تاسي یو څوک ژوبل او یا له له تاسي ناوړه ګټه اخیستنه وکړي، موږ دا پټ نه شو ساتلی لیکن موږ به د دې باره کي ډیر محتاطه وو چي چاته یی ووایو او یوازې به یی هغه چاته ووایو کوم چي ورته د اوریدو او یا خبریدو اړتیا ولري

.

دا به تاسي شاید لږ ویرونکي وي او تاسي شاید وغواړی چې پټ پاتې شي خو موږ هیله لرو له دې سره سره یی موږ ته ووایی تر څو ستاسي لاسنیوی او مرسته وکړو.

# د خوندیتوب پوښتنې:

**آیا تاسي د خوندیتوب اړوند کومه پوښتنه لری؟**

**آیا تاسي کومه داسي نظریه لری چې پر بنسټ یی د خوندیتوب اړوند هڅې لا ښې شي؟**

## که یی لری له مهرباني وکړی له جاوید سره (safeguarding@citizensuk.org) بریښنالیک له لارې په اړیکه کې شی .